# دَ پطروس رسُول اول خط

## پطروس رسُول اول باب ۱

### سلام

۱ دَ پطروس له طرفه چه دَ عیسیٰ مسیح رسُول دے،دَ خُدائے دَ هغو غوره شوؤ مُهاجرینو په نُوم چه دَ
پونطوس،گلتیه،کپدوکیه،ایشیا اَؤ بیتونیه په صوبو کښے خوارۀ وارۀ دی، ۲ اَؤ دَ خُدائے پلار دَ ازلی اِرادے
په مُطابق تاسو دَ رُوحُ القُدس په پاکولو سره دَ عیسیٰ مسیح فرمانبردار شوئ اَؤ دَ عیسیٰ مسیح وینه ستاسو
دَ پاره تویه شوه چه تاسو پاک شئ.

دَ فضل اَؤ دَ سلامتئ زیاتوالے دِ تاسو سره وی.

### ژوندے اُمید

۳ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح اَؤ دَ خُدائے پلار دِ ثنا وی،چه دَ عیسیٰ مسیح دَ مړو نه دَ بیا ژوندی کولو
په سبب ئے په خپل لوئے رحمت سره مُونږ دَ ژوندی اُمید دَ پاره بیا پیدا کړُو، ٤ چه په یو نۀ فنا
کیدُونکے،بے داغه اَؤ لازواله میراث حاصل کړُو چه هغه ستاسو دَ پاره په آسمان کښے ساتلے شوے
دے. ٥ خُدائے تاسو دَ ایمان په وسیله په خپل قُدرت سره محفُوظ ساتی دَ هغه خلاصُون دَ پاره چه په
آخری وخت کښے ښکاره کیدو ته تیار دے.

٦ دَ دے په سبب تاسو خوشحالئ کوئ اګر که اوس دَ څو ورځو دَ پاره دَ قِسما قِسم آزمیښتُونو په سبب
غم زپلی یئ. ۷ اَؤ دَ څکه دے چه ستاسو آزمئیلے شوے ایمان خالص شی،کُوم ایمان چه په اور آزمئیلی
شوؤ فانی سرو زرو نه هم ډیر زیات قیمتی دے،اَؤ چه دَ عیسیٰ مسیح دَ ښکاره کیدو په وخت دَ ستائینے
اَؤ جلال اَؤ دَ عزت سبب وګرزئ. ۸ تاسو دَ هغۀ سره مینه لرئ چه مو لیدلے نۀ دے،اَؤ سره دَ دے چه
په دے وخت هغه نۀ وینئ بیا هم په هغۀ ایمان راؤړئ،اَؤ داسے خوشحالئ کوئ چه دَ بیان نه بهر اَؤ دَ
جلال نه ډکے وی، ۹ اَؤ خپل ایمان مقصد،یعنے دَ رُوحُونو خلاصُون حاصلوئ.

۱۰ دَ دے خلاصُون په باره کښے هغو نبیانو ډیر لټُون اَؤ تحقیق وکړو اَؤ دَ هغه فضل په باب کښے چه په
تاسو کیدُونکے وُو،ئے پیشن ګوئی وکړه. ۱۱ دَ مسیح رُوح په هغوئ کښے وُو اَؤ دا ګواهی ئے ورکوله
چه مسیح به تکلیفُونه وزغمی اَؤ بیا به جلال ومُومی،نو بیا نبیانو دَ دے معلُومولو کوشِش وکړو چه دَ رُوح
دا اِشاره به په څۀ وخت اَؤ په کُومه زمانه کښے پُوره کیږی. ۱۲ هغوئ ته دا ښکاره کړے شوه چه دَ
هغوئ دا خدمت دَ خپل ځان دَ پاره نۀ وُو بلکه ستاسو دَ پاره وُو.نبیانو دَ هغه خبرو بیان هم وکړو چه
تاسو هم دَ پیغمبرانو په وسیله په زیری کښے آؤریدلے دی،خُدائے دَ آسمان نه خپل رُوحُ القُدس رااستولو
سره دا پیغام واؤرولو.دا داسے خبرے دی چه فرښتے هم پرے دَ ځان پوهیدلو خواهش مندے وے.

### دَ پاک ژوندُون دَ پاره رابلل

١٣ دَ دے دَ پاره دَ خپل عقل نه کار واخلئ اَؤ هوښيار شئ،اَؤ دَ هغه فضل کامل اُميد لرئ کُوم چه دَ
عيسیٰ مسيح دَ ظاهرېدو په وخت په تاسو کېدُونکے دے. ١٤ اَؤ تابعدار بچی جوړ شئ،دَ خپل جهالت دَ
زمانے دَ هغه زړو خواهشاتو غُلامان مه جوړېږئ. ١٥ بلکه لکه چه ستاسو رابلُونکے پاک دے هم هغه
شان تاسو هم په خپل ټول چال چلن کښے پاک شئ. ١٦ لکه چه صحيفے وائی چه «پاک شئ ځکه
چه زَهٔ پاک يم.»

١٧ اَؤ چه تاسو ورته پلار وايئ نو دَ هغه خُدائے نه دُعا غواړئ چه دَ هر چا دَ عمل په مُطابق بغير دَ
طرفدارئ نه اِنصاف کوی،نو دَ خپل هجرت وخت په ويره تير کړئ. ١٨ ځکه چه تاسو خبر يئ چه
ستاسو فضُول چال چلن چه دَ پلار نيکه نه مو مُوندلے دے دَ هغے نه ستاسو خلاصُون دَ فانی څيزُونو
،يعنے سرو يا سپينو زرو په وسيله ونهٔ شو، ١٩ بلکه دَ يو روغ رحمت اَؤ بے داغه ګډُوری،يعنے دَ مسيح دَ
قيمتی وينے په وسيله. ٢٠ خُدائے هغه خو دَ دُنيا دَ جوړيدو نه اول غوره کړے وُو خو ظهُور ئے په آخری
زمانه کښے ستاسو دَ پاره وشو، ٢١ چه تاسو دَ هغهٔ په وسيله په خُدائے ايمان راوړے دے چه هغه ئے دَ
مړو نه ژوندے کړو اَؤ جلال ئے ورکړو،دَ پاره دَ دے چه ستاسو ايمان اَؤ اُميد هم په خُدائے وی.

٢٢ کله چه تاسو دَ حق په تابعدارئ سره خپل زړُونه پاک کړی دی اَؤ دَ هغے په وجه دَ ورُوڼو دَ پاره بے
رِيا مينه پيدا شوه،نو دَ دے دَ پاره په خپلو کښے دَ زړهٔ نه ډيره مينه لرئ. ٢٣ ځکه چه تاسو دَ فانی تُخم
نه نه،بلکه دَ خُدائے دَ کلام په وسيله کُوم چه ژوندے اَؤ قائم دے، دَ غير فانی تُخم نه بيا پيدا شوی يئ.
٢٤ ځکه چه:

«هر بشر دَ واښو په شان دے

اَؤ دَ هغهٔ ټول شان و شوکت دَ واښو دَ ګُل په شان،

واښهٔ وچيږی اَؤ ګُل ئے رژيږی

٢٥ خو دَ خُدائے کلام به تل تر تله قائم پاتے وی.»

اَؤ دا دَ هغهٔ دَ زيری کلام دے چه تاسو ته اَؤرولے شوے وُو.

## پطروس رسُول اول باب ٢

## ژوندے کاڼے اَؤ پاک قوم

١ نو بيا هر قِسم بدی،فريب،رياکاری،کينه اَؤ هر قِسم بده وينا پريږدئ. ٢ دَ نؤو پيدا شوو بچو په شان دَ
خالِص رُوحانی پيو خواهشمند اوسئ چه دَ هغو په وسيله دَ خلاصُون مُوندلو دَ پاره لوئيږئ. ٣ تاسو دَ
مالِک دَ مهربانه کيدو خوند څکلے دے.

٤ نو مسيح ژوندی کاڼی له راشئ چه بنی آدمو رد کړے خو خُدائے قيمتی غوره کړے دے. ٥ تاسو هم

دَ ژوندو کاڼو په شان دَ خُدائے رُوحانی کور جوړ شئ چه دَ کاهنانو مُقدسه فرقه په جوړيدو داسے رُوحانی قُربانئ پيش کړئ چه دَ عيسیٰ مسيح په وسيله خُدائے ته قبُولے وی. ۶ لکه چه په کتاب مُقدس کښے وئيلی دی چه:

«ګورئ،زَهٔ په صيون کښے دَ ګُوټ غوره کړے

اَؤ قيمتی کاڼے ږدم،

څوک چه به په هغهٔ ايمان راوړی

هغه به هيڅ کله شرمنده نهٔ شی.»

۷ نو بيا ستاسو دَ پاره چه ايمان مو راوړے دے،هغه کاڼے قيمتی دے،خو څوک چه ايمان نهٔ راوړی دَ هغوئ دَ پاره :

## «کُوم کاڼے چه ګِلکارانو رد کړو

هغه دَ ګُوټ سر کاڼے شو.»

۸ اَؤ

«دَ تيندک کاڼے اَؤ دَ ټکر خوړلو ګټ شو»

ځکه چه هغوئ نافرمان دی اَؤ کلام سره تيندک خوری،اَؤ هغوئ هم دَ دے دَ پاره مُقرر شوی وُو.

۹ خو تاسو يو غوره کړے شوے نسل،دَ شاهی کاهنانو فرقه،مُقدس قوم،اَؤ دَ خُدائے خپل اُمت يئ،دَ پاره دَ دے چه دَ هغهٔ لوئے کارُونه ښکاره کړئ چه تاسو ئے دَ تيارے نه خپلے عجيبه رڼا ته رابللی يئ. ۱۰ وړُومبے تاسو دَ خُدائے اُمت نهٔ وئ خو اوس دَ خُدائے اُمت يئ،په تاسو رحمت نهٔ وو شوے خو اوس په تاسو رحمت وشو.

## دَ خُدائے دَ خدمتګارانو په شان ژوندُون تيرول

۱۱ خوږو ملګرو! زَهٔ تاسو ته خواست کوم چه تاسو خپل ځانُونه مُسافر اَؤ مُهاجر وګڼئ،دَ هغه جسمانی خواهشُونو نه ځان ساتئ چه دَ رُوح سره جنګ کوی. ۱۲ اَؤ په غيرو قومُونو کښے خپل چال چلن نيک ساتئ ځکه چه په کُومو خبرو کښے هغوئ تاسو بدکار ګڼی اَؤ ستاسو بد وائی،ستاسو دَ نيکو کارُونو په ليدو اَؤ دَ هغو په سبب دَ ملاحظے په ورځ چه خُدائے په هغوئ نظر وکړی.

۱۳ مالِک دَ خاطره دَ بنی آدم دَ هر يو اِنتظام تابع اوسئ،دَ بادشاه په دے سبب چه هغه دَ ټولو نه لوئے دے، ۱۴ اَؤ دَ حاکمانو په دے سبب چه هغه دَ بدکارانو دَ سزا دَ اَؤ نيکانو دَ تعريف دَ پاره هغهٔ راليږلی دی. ۱۵ ځکه چه دَ خُدائے دا مرضی ده چه تاسو نيکی وکړئ اَؤ دَ ناپوهه خلقو دَ جهالت خبرے بند

کړئ. ۱۶ اَؤ خپل ځانُونه آزاد وګڼئ،خو دا آزادی دَ بدئ پرده مه جوړوئ بلکه خپل ځانُونه دَ خُدائے بنده
ګان ګڼئ. ۱۷ دَ ټولو عزت کوئ،دَ ایماندارانو سره مینه لرئ،دَ خُدائے نه ویریږئ اَؤ دَ بادشاه عزت کوئ.

## دَ مسیح دَ مُصیبتُونو زغملو نمُونه

۱۸ اَئے غُلامانو! ډیر په اِحترام سره دَ خپلو مالِکانو تابع اوسئ،نۀ یواځے دَ نیکانو اَؤ حلیمانو بلکه دَ
بدمزاجه هم. ۱۹ ځکه چه که څوک دَ خُدائے په خیال ناحق مُصیبتُونه اَؤ دړد وزغمی نو دا غوره ده. ۲۰
ځکه چه که تاسو په ګُناه کولو سُوکُونه وخوړل اَؤ صبر مو وکړو،نو فخر دَ څۀ خبرے؟ خو که په نیکئ
کولو مُصیبت وزغمئ نو دَ خُدائے په نِزد دا غوره ده. ۲۱ اَؤ تاسو دَ دے دَ پاره رابللی شوی یئ،ځکه چه
مسیح هم ستاسو دَ پاره مُصیبت وزغمو اَؤ تاسو ته ئے یوه نمُونه درکړے ده چه دَ هغۀ په قدم روان شئ.

۲۲ «نۀ هغۀ څۀ ګُناه وکړه،

اَؤ نۀ دَ هغه دَ خُلے نه دَ څۀ فریب خبره ووتله.»

۲۳ نۀ هغۀ دَ کنځلو په بدل کښے کنځل کول اَؤ نۀ ئے په مُصیبتُونو زغملو چا ته دپکه ورکوله بلکه خپل
ځان ئے رښتُونی اِنصاف کوُونکی ته وسپارلو. ۲٤ هغۀ زمُونږ ګُناهُونه سولئ ته دَ خپل ځان سره یوړل دَ
دے دَ پاره چه مُونږ ګُناهُونو ته مړۀ شو اَؤ دَ صداقت دَ پاره ژوند تیرُوو،اَؤ دَ هغۀ په زخمونو تاسو شفا
ومُونده. ۲۵ ځکه چه وړُومبے تاسو دَ بے لارے ګډو په شان ګرزیدلئ خو اوس دَ خپلو رُوحُونو شپُونکی
اَؤ څارُونکی ته بیا راغلی یئ.

# پطروس رسُول اول باب ۳

## ښځے اَؤ خاوندان

۱ اَئے ښځو! هم دغه شان تاسو هم دَ خپلو خپلو خاوندانو تابعدارے اوسئ،ځکه چه که په هغو کښے
څنے دَ خُدائے کلام نۀ منی چه بیا هم ستاسو پاک چال چلن ته وګوری اَؤ خُدائے ته راواوړی، ۲ یعنے
چه ستاسو پاکیزه ګئ اَؤ اِحترام ته وګوری نو دَ څۀ وئیلو نه بغیر دَ خپلو خپلو ښځو دَ چال چلن په وجه.
۳ اَؤ ستاسو ډول اَؤ سنګار دِ ظاهری نۀ وی،یعنے سر څنے کول اَؤ دَ سرو زرو کالی اَؤ قِسما قِسم جامے
آغوستل، ٤ بلکه ستاسو دَ غیر فانی سنګار ډول دِ په باطنی اِنسانیت کښے،په حلیمئ اَؤ دَ آرامئ په رُوح
کښے وی،چه دَ خُدائے په نزد ډیر قیمتی دے. ٥ اَؤ په وړُومبئ زمانه کښے هم په خُدائے اُمید لرُونکو
پاکو ښځو خپل ځانُونه دغه شان سنګارول اَؤ دَ خپل خپل خاوند تابعدارے اوسیدلے، ٦ لکه چه ساره دَ
اِبراهیم په حُکم کښے اوسیدله اَؤ هغۀ ته ئے مالِک وئیل. که تاسو هم چرے نیکی کوئ اَؤ دَ څۀ بلا نه
نۀ ویریږئ نو دَ هغے لُوڼه شئ.

۷ اَئے خاوندانو! دغه شان تاسو هم دَ خپلو ښځو سره په عقلمندئ ګُزاره کوئ اَؤ ښځے نازک لوښی
وګڼئ،عزت ئے کوئ اَؤ داسے ګڼئ چه مُونږ دواړه دَ ژوند دَ نعمت وارثان یُو،دَ پاره دَ دے چه ستاسو

دُعاګانے ایسارے نۀ شی.

## دَ صداقت په وجه زغم تیرول

٨ غرض دا چه ټول په یو زړۀ اَؤ په همدردئ اوسیږئ،دَ ورورولئ مینه لرئ،نرم زړۀ اَؤ حلیمان شئ. ٩ دَ
بدو په بدل کښے بد مه کوئ اَؤ دَ کنځلو په بدل کښے کنځل مه کوئ،بلکه دَ دے په ځائے برکت
غواړئ ځکه چه تاسو دَ برکت دَ وارث کیدو دَ پاره رابللی شوی یئ. ١٠ ځکه چه

«هر څوک چه دَ ژوندانه خوشحاله کیدل

اَؤ ښے ورځے لیدل غواړی،

هغه دِ ژبه دَ بدئ نه اَؤ شُونډے دَ فریب

دَ خبرو کولو نه وساتی،

١١ دَ بدئ نه دِ ځان وساتی اَؤ په نیکئ دِ عمل کوی،

دَ صُلح طلبګار دِ وی اَؤ دَ هغے په کوشِش کښے دِ وی.

١٢ ځکه چه دَ مالِک سترګے دَ صادِقانو طرف ته دی

اَؤ دَ هغۀ غوږُونه دَ هغوئ دَ دُعا دَ پاره څک دی،

خو دَ بدکارانو نه مخ اړوی.»

١٣ که تاسو په نیکئ کولو کښے بوخت یئ نو دَ تاسو سره بدی کوُونکے څوک دے؟ ١٤ اَؤ که دَ
صداقت دَ خاطره مُصیبتُونه هم وزغمئ نو تاسو بختور یئ. «دَ هغوئ په ویرولو مه ویریږئ اَؤ زړُونه مه
بائیلئ.» ١٥ بلکه مسیح مالِک وګڼئ اَؤ په خپلو زړُونو کښے ئے مُقدس ګڼئ،اَؤ چه څوک ستاسو نه
ستاسو دَ اُمید دَ وجے تپوس وکړی هغۀ ته دَ جواب ورکولو دَ پاره هر وخت تیار اوسئ، ١٦ خو په نرم
مزاجئ اَؤ په اِحترام سره.اَؤ نیت هم نیک ساتئ ځکه چه په کُومو خبرو کښے چه په تاسو بد وئیلے شی
چه په هغو کښے هم هغه خلق شرمنده شی چه ستاسو مسیحی نیک چلن ته بدرد وائی. ١٧ ځکه چه که
دَ خُدائے دغه مرضی وی چه تاسو دِ دَ نیکئ کولو په سبب مُصیبت وزغمئ،نو دا دَ بدئ کولو په سبب دَ
مُصیبت زغمُولو نه غوره دی. ١٨ مسیح ستاسو دَ ګُناهُونو دَ خاطره یو ځل همیشه دَ پاره مړ شو،یعنے
صادِق دَ ګُناه ګارانو دَ پاره،دَ دے دَ پاره چه مُونږ خُدائے ته ورسوی. هغه په جسمانی طور مړ کړے شو
خو په رُوحانی طور ژوندے کړے شو. ١٩ په دے شان هغه لاړو اَؤ هغه قیدی رُوحونو ته ئے پیغام ورکړو
٢٠ چه په هغه وړُومبئ زمانه کښے دَ خُدائے نافرمانه وُو کله چه خُدائے دَ نُوح په وخت کښے په زغم
اِنتظار کاوو،اَؤ هغه کِشتئ تیاریدله په کُومه کښے چه څۀ لږ کسان،یعنے اَتۀ کسان سوارۀ شول اَؤ دَ اوبو
نه تیر شول اَؤ بچ شول. ٢١ اَؤ دا هم دَ دے اوبو مِثال دے کُومے چه تاسو اوس بچ کوی،یعنے بپتسمه

چه دَ وجُود ناپاکی لرے کول نه،بلکه دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا ژوندی کیدلو په وسیله خُدائے پاک ته دَ صفا
زړۀ سوال دے، ۲۲ چه عیسیٰ آسمان ته ختلے دے اَؤ دَ خُدائے ښی لاس ته ناست دے،اَؤ فرښتے اَؤ
اِختیارات اَؤ قُدرتُونه دَ هغهٔ تابع کړی شوی دی.

# پطروس رسُول اول باب ۴

## دَ خُدائے دَ فضل ښهٔ مُختار

۱ نو بیا چه مسیح په جِسمانی طور مُصیبت وزغملو نو ځکه تاسو هم دغه شان دَ مسیح غوندے مزاج
ولرئ،دَ دے دَ پاره چه چا چه درد اَؤ مُصیبت وزغملو هغه دَ گناه دَ قبضے نه آزاد شو، ۲ دَ پاره دَ دے
چه آئنده خپل باقی جسمانی ژوندُون دَ اِنسانی خواهشُونو په طور نهٔ تیروی بلکه دَ خُدائے دَ مرضئ په
مُطابق. ۳ ځکه چه دَ غیرو قومُونو دَ مرضئ په مُطابق په کار کولو اَؤ شهوت پرستئ،بدو خواهشُونو
،شرابو،نڅا گډا،نشه بازئ اَؤ بُت پرستئ کښے چه تاسو اول څومره وخت تیر کړو،هغه کافی دے،چه دَ
هغهٔ ذکر کول هم دَ شرم خبره ده. ٤ هغوئ په دے حیران دی چه تاسو په سخته بدچلنئ کښے دَ هغوئ
ملگرتیا نهٔ کوئ اَؤ تاسو ته بدرد وائی. ٥ خو هغوئ به دے حساب خُدائے ته ورکوی چه دَ ژوندو اَؤ دَ
مړو عدالت کولو ته تیار دے. ٦ ځکه چه مړو ته هم زیرے ځکه آوَرولے شوے وُو چه په جِسم کښے
خو دِ دَ خلقو په مُطابق دَ هغو اِنصاف وشی خو په رُوحانی طور دِ دَ خُدائے په شان ژوندی اوسی.

۷ دَ ټولو څیزُونو خاتمه کیدُونکے ده،نو ځان ساتئ اَؤ دَ دُعا کولو دَ پاره بیدار اوسئ. ۸ دَ ټولو نه لویه
خبره دا ده چه په خپلو کښے مینه ساتئ ځکه چه مینه په ډیرو گناهُونو پرده اچوی. ۹ بے له گُوریدلو په
خپلو کښے دَ یو بل میلمستیا کوئ. ۱۰ هر چا ته چه هر څومره نعمت ورکړے شوے دے،هغه دِ دَ
خُدائے دَ مختلفو نعمتُونو دَ ښو مُختارانو په شان دَ یو بل په خدمت کښے ولگوئ. ۱۱ که څوک څهٔ
وائی نو داسے دِ وائی لکه چه دَ خُدائے کلام دے،که څوک خدمت کوی نو دَ هغه طاقت په مُطابق دِ
ئے کوی کُوم چه خُدائے ورکړے وی،دَ پاره دَ دے چه په ټولو خبرو کښے دَ عیسیٰ مسیح په وسیله دَ
خُدائے جلال ظاهروی. جلال اَؤ بادشاهی تل تر تله دَ هغهٔ ده! آمین

## دَ ایماندار زغم

۱۲ زما خوږو ملگرو! کُوم دَ مُصیبت اور چه ستاسو دَ آزمیښت دَ پاره په تاسو کښے بل دے،نو دا مه گڼئ
اَؤ په هغه حیرانیږئ مه چه په مُونږ دا یوه عجیبه خبره راغلے ده. ۱۳ بلکه دَ مسیح په مُصیبتُونو کښے چه
هر څومره شریکیږئ،خوشحالئ کوئ،دَ پاره دَ دے چه دَ هغهٔ دَ جلال دَ ظاهریدو په وخت هم ډیر
خوشحاله یئ. ١٤ که چرے دَ مسیح دَ نُوم په سبب تاسو ته بدرد وویلے شی نو تاسو بختور یئ،ځکه چه
دَ جلال رُوح،یعنے دَ خُدائے رُوح په تاسو سورے کوی. ۱٥ په تاسو کښے دِ څوک خُونی،غل،بدکاره یا
دَ نورو په کار کښے دَ لاس وهلو په سبب مُصیبت ونهٔ زغمی. ۱٦ خو که څوک په دے وجه چه هغه
ایماندار دے مُصیبت بیا مُومی نو شرمیږی دِ نه،بلکه دَ دے نُوم په وجه دِ دَ خُدائے ثنا ووائی.

۱۷ ځکه چه هغه وخت راغلے دے چه دَ خُدائے له کوره دِ عدالت شروع شی،اَؤ هر کله چه زمُونږ نه

شروع کيږی نو دَ هغوئ به څۀ حال وی څوک چه دَ خُدائے زيرے نۀ منی؟ ١٨ اَؤ

«هر کله چه صادِق به په مُشکل سره خلاصُون مُومی

نو دَ بے دينه اَؤ ګناه ګار به څۀ حال وی؟»

١٩ نو بيا چه څوک دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق مُصيبتُونه زغمی،هغوئ دِ خپل ځانُونه وفادار خالق ته په
حواله کړی اَؤ هميشه دِ نيکی کوی.

## پطروس رسُول اول باب ۵

## دَ خُدائے دَ رمے شپُونتوب

١ په تاسو کښے چه څوک مشران دی،زۀ دَ هغوئ په شان مشر اَؤ دَ مسيح دَ مُصيبتُونو ګواه اَؤ په ښکاره
کيدُونکی جلال کښے شريک هم يم،تاسو ته دا خواست کوم، ٢ چه دَ خُدائے دَ هغه رمے شپُونتوب
کوئ چه خُدائے تاسو ته درکړے ده.په زور سره ئے مه څروئ بلکه دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق په
خوشحالئ سره،اَؤ ناجائزے ګټے دَ پاره نه،بلکه دَ زړۀ په شوق. ٣ اَؤ کُوم خلق چه ستاسو په حواله شوی
دی،په هغوئ حُکومت مه چلوئ بلکه دَ رمے دَ پاره نمُونه شئ. ٤ اَؤ هر کله چه مشر شپُونکے ظاهر شی
نو تاسو ته به دَ جلال داسے سهره درکړے شی چه دَ مړاوے کيدو نۀ ده،

٥ ائے ځوانانو! هم دغه شان تاسو هم دَ مشرانو تابعدار اوسئ،بلکه دَ يو بل دَ خدمت دَ پاره ټول په
حليمئ ملا وتړئ ځکه چه

«خُدائے دَ کبرژنو مُقابله کوی اَؤ حليمانو ته فضل وربخښی.» ٦ نو بيا دَ خُدائے دَ مضبُوط لاس دَ
لاندے په حليمئ اوسيږئ چه هغه تاسو په وخت باندے سربلند کړی. ٧ اَؤ خپل ټول فکر په هغۀ واچوئ
ځکه چه هغه ستاسو خيال لری.

٨ تاسو ځان ساتئ اَؤ بيدار اوسئ ځکه چه ستاسو مُخالف اِبليس دَ غړمبيدُونکی مزری په شان په دے
لټون کښے دے چه څوک ونغری. ٩ تاسو په ايمان کښے مضبُوط شئ اَؤ دَ هغۀ مُقابله وکړئ ځکه چه
تاسو ته معلُومه ده چه ستاسو ورُونه چه په دُنيا کښے دی،هم دغه شان مُصبتُونه زغمی. ١٠ اوس دَ هر
قِسم فضل ور کوُونکے خُدائے چه تاسو دَ مسيح په يووالی کښے دَ خپل آبدی جلال دَ شامليدو دَ پاره
راوبللئ چه تاسو به دَ لږ وخت دَ مُصيبت زغملو نه پس په خپله کاملان،قائم اَؤ مضبُوط کړی. ١١ دَ هغۀ
قدرت دِ تل تر تله وی! آمين.

## آخری سلامُونه

١٢ ما په سيلوانس چه زما په خيال کښے ديانتدار ورور دے په لږ شان وليکل،اَؤ تاسو ته مے نصيحت
وکړو اَؤ دا کواهی مے ورکړه چه دَ خُدائے رښتُونے فضل دغه دے،په دے قائم پاتے شئ.

۱۳ هغه جماعت چه په بابل کښے ستاسو په شان غوره دے،هغه اَؤ زما زوئے مرقوس تاسو ته سلام وائی.
۱٤ يو بل په مينه کښلوئ اَؤ په خپلو کښے سلام وايئ.

تاسو ټول چه دَ مسيح يئ،تاسو ته دِ سلامتی حاصله وی.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved